آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۱۴

# «دا خو شمـال و، چې اور يـې راوړ
# آرام يـې يـووړ، او شـور يـې راوړ»

نن د فبروری څوارلسمه نیټه ده او د ځینو هیوادونو خلک یې د مینانو د ورځې په نامه لمانځي، یو بل ته د درناوي په دود، د میني کولو په رسم او په پای کې میني ته د درناوي په پار ګلان او رنګارنګ ډالی ورکوي.
ما ته مینه د عبادت تر پولې پورې ارزښت لري، خو زموږ پر ټولنه او خلکو باندې داسې راغلي او یا رواوستل شوي دي چې کرکه ور باندې غالبه شوې ده، میني ته یې شا کړې ده او کرکه نوره هم پالي. اوس خبره دې ته رسیدلې ده چې زموږ په ټولنه کې مینه سانسور شوې ده، مینه ګناه ګڼل کیږي او میننان ګنهکار بلل کیږي، د همدې له پاره ما په خپل یو آزاد شعر کې د داسې یو شاعر په څواب کې چې مینه او د میني پته ور نه ورکه وه، ویلي وو:

«دلته د کرکي زړی شین شو
مینه والو تله، لاړه مهاجره شوله...
... که دې په کار وي کرکه
نو کابل جان ته لاړ شه
افغانستان ته لاړ شه»

په افغانستان کې د رواني جګړې اور کلونه پخوا زموږ د مظلومو هیواد والو د بیلابیلو ضعیفو ټکو نه په استفادې سره، بل کړای شوی دی. تر نن پورې، څه موږ خپله د نا پوهی له مخې، څه اور بلوونکو د خپلو هیلو او موخو د تر سره کیدو له پاره دا اور بل ساتلای دی او له پیل نه تر نن پورې، د دې اور خوراک زموږ د هیوادوالو تن، بدن، وطن او غوښې - هډوکي دي.
په دې ورځو کې چې د یوې ډلې اور بلوونکو له راتللو نه وروسته د بیرته وتلو د خویمې کلیزې په پلمه ډمامې، ترخې خاطرې، د طنز ډوله خنداوو او ژړاوو د یادولو بازار تود دی، او سږ یې ځانګړنه دا ده چې د دې ډلې اور بلونګو د وتلو ورځ، د مینانو له ورځې سره برابره شوې ده.
زه په داسې حال کې چې د ټولو ته د مینانو د ورځې مبارکي وایم، غواړم هغو ته چې دښمنی او کرکې ته ډیر پام کوي، د خپل یو شاعر یار داسې یو ټوټه شعر چې همدې جګړې ته او د همدې جګړې د اور نا خوالو، جفاوو او اور بلولو ته وقف شوی دی، له تاسو درنو لوستونکو سره یو ځل بیا شریک کړم. دا شعر یو وار مخکې هم ما د همدی بل کړای شوي اور په لمبو کې سوځیدلو بدنونو په پار له یوې مقدمې سره خپور کړی و، او اوس یې بیا تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم.
کیسه داسې وه چې په ماسکو کې د کوم درانه سکوت د ماتولو له پاره ما (آصف بهاند) د مشاعرې په پلمه زما په کوربه توب یو شمیر فرهنګیان د۱۹۹۴کال د سپتمبر په ۲۵ نیټه زما په استوګنځي کې را ټول کړي وو، په هغې مشاعره کې ګران دوست لطف الرحمن خاموش د «اور او شمال» تر سر لیک لاندې خپل یو شعر واوراوه.

په شعر کې په ماهرانه او هنرمندانه ډول اور له شمال سره غوټه کړای شوی دی. له یوې خوا دا رسوي چې کله اور وي، شمال نور هم اور تازه کوی او په حقیقي مانا سره همدا نابللي شمالي ګاوندی و چې له ځان سره یې د جګړې د لا تودولو له پاره نور اور هم راوړ، زموږ وطن یې په کې وسیځه، د دې وطن او دې بڼ ګلان او بلبلان یې په کې نیني کړل او زموږ هیواد وال یې تر نن پورې په لمبو او تاو کې سوځي.

په شعر کې خاموش په رسا ژبه او په مینه پسې د نستالژیک ارمان په څپو کې پوښتنه کوي چې د جګړې اور بل کړای شوی دی او هر څه له یوې مخې سوځوي، د دې اور د وژلو څوک شته که نه شته، هم په چیغو او هم په ورو وایي:

**«داسې څوک نه شته چې دا اور مړ کا؟»**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لطف الرحمن خاموش

# اور او شما ل

اورونـــه بـل دي، کــورونــه سیځي
سـکـروټـي دل، دودونـــه خـــیـژي

داسي ځوک نه شته چي دا اور مړ کا؟

کـکـرۍ وسـوې، سـرونــه وسـول
د بـریـتـورو، بـریـتـونــه وسول
د ښکلـو پیغلو میني پـرې وسـوې
د ړیـرورو ړیــــري پـرې وسوې

داسي ځوک نه شته چي دا اور مړ کا؟

ممـانـي وسـوې، کـرکـنـي وسـوې
د ونـو ځـانـګي او ځـنـي وســـوې
کـوتـرې وسـوې، چـڼ چڼي وسوې
تـــوتـکـۍ وسـوې او غنـي وسـوې

داسي ځوک نه شته چي دا اور مړ کا؟

تیرې پـخي شـوې، کټي پخي شــوې
د خـامـو میني، خـټي پـخي شـوې
دا مـټي خـاورې، متي پـخـي شـوې
اورونـــه بـل دي، کــورونـه سیځي
سـکـروټي دل دي، دودونــــه خـیژي

داسي ځوک نه شته چي دا اور مړ کا؟

دا خـو شمــال و، چـي اور یـــي راوړ
آرام یـي یـوړ او شـــور یـــي راوړ
ځـو چي دا اور وې، داسـي شمـال وي
کو ربه مو خوروي، دا به مو حال وي
خـدایه تـبـاه کـړي د شمـا ل میـنـه
چي پـرې سـره شـي، زمـوږه ییـنه

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ